سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۰۹/۲۲

# افغانستان په ټوله نړۍ کې د ښځو د پاره بدترین هیواد

ننني افغانستان د نړۍ په مخ په سلګونو هیوادونو کې هغه یواځنی هیواد دی چې د نفوس د نیمایی نه لوړه برخه (ښځینه نسل) یی د ټولنیزو کارونو او د تعلیم نه بی برخی شویدی. د افسوس او تأثر نه ډکه خبره خو داده چې دا بندیزونه د وخت د چاروکو له خوا په دی بهانه چې د فحشاو مخه ونیول شی لګیدلی دی.

زه د یوه نارینه انسان په توګه په دی نه پوهیږم چې د فحشاو او نورو اخلاقی فسادونو اصلی جوړونکی څوک دی، ښځي که نارینه؟؟

ایا په نړۍ کی ستری فاحشه خانی هم په غربی دیموکراسي کی، هم په شرقی کمونستی جامعه کی او هم د شرق او غرب تر منځ په اسلامی ټولنو کی د چا مالیکیت دی د ښځو که د نارینه و؟؟

همدارنګه باید د عقل له مخی او په خلاصو سترګو دا موضوع په نړیواله سطحه و څیرله شی چې تر اوسه په دی دنیا کی دالوی او واړه جنګونه چې په سلونو میلیونه انسانان پکی قتل شویدی چا جوړ کړیدی ، ښځو که نارینه و؟؟

ایا په دی موجوده نړۍ کی دا ټولی لوئی او وړې د رنګا رنګ جنایت کارانو ډلي چا جوړی کړی او څوک یی پر مخ بیا یی، ښځي که نارینه؟؟

ایا د ننني افغانستان واکمن، د ښاغلو طالبانو ټول مشران او کشران اویا په غرب کی میشت د هغوی ښاغلی پلویان د ایمان او وجدان له مخی دی پوښتني ته ځنګه ځواب وایی چې: ( تاسو په ټول ژوند کی کومه ځانګړې ښځه یا جنې یا د ښځو او نجونو کومه ډله لیدلی چې نارینه یی د فحاشی او بد اخلاقی د رابطی د پاره تعقیب او یا تهدید کړی وی او که برخلاف دا نارینه دی چې ښځې تعقیب او تهدید وی؟؟

ایا دا په ویرونکی لباس کی د ښځو را نغښتل برسیره پر دی چې د ښځو د سمی ساه اخستنی حق هم ورنه صلبوی، کولی شی چې که دوی غوښتی وی د نا جایزی اړیکی نه مخنیوی وکړی؟؟

ایا په ټوله نړۍ کی د انسان تښتوني، د غلاو اوداړو اچولو د اعمالو سرته رسونه، د مخدره موادو قاچاق، رواجونه اوپه دی موادو د ملیونونو انسانانو د اخته کیدلو ضد انسان کاروبار نارینه کوی که ښځي؟؟

او بلاخره د انسان لومړنی شتون ستاسو په ګډون د ښخو په وجود کی جوړیږی که د نارینه، د دی ماشوم درد او دروند بار ښځه زغمی که نارینه او دا واړه ماشومان د الله ج په وحدانیت د عمر په دری ځلورکلني کی ښځه خبروی که نارینه؟؟



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com

او د وروستی پوښتنې په توګه تاسو نارینه په کوم حق، د کوم حدیث او مبارک آیات په حکم ځانته هر ډول چې مو خوښه وی لباس انتخابوی او ښځو ته داسی لباس ټاکی چې د هغوی نه بلکی ستاسو خوښ وی ، ولی؟؟

داسی په لسګونی نوری پوښتنې شته چې تاسو ښاغلی او ستاسو د مدرسو استادان په هیڅ وجهه ورته قانع کونکی او د اسلام د مبارک دین د اساساتو سره سم ځواب نه شی ورکولی، بلکی ستاسو ځواب به هرچا ته یواځې په کوټک او زور سره وی، چی په اوسنې زمانه کی د کنترول تر ټول بده او نا جایزه لارده.

تاسو خو پوهیږی چې جنت د مور د پښو لاندی دی، نه د پلار د قدمو لاندی، نو اوس و وایاست چې د اسلام په مبارک دین کی د ښځې حقوق لوړ دی که د نارینه؟؟

ښځو ته حق ورکول د ټولنیزو اصولو له مخی نه بلکی داچی ښځه انسانه ده، بشر دی او د بشر جوړونکی او روزونکی ده د الله ج له خواورکول شوی دی، نو د دی حق اخستل ورنه ماته کبیره ګناه ښکاری. دا ګناه مکوی چی د خدای د قهر سره مخ نه شی.

په دی هیله چی لکه څنګه چی پروردګار عالم ښځه له نارینه نه، ښکلی، ظریفه، جذابه، حساسه، زړه سوانده، مهربانه، مینه ناکه، حوصله لرونکی او حیاناکه پیدا کړی، همداسی یو وخت راشی چی د انسانې نړی زعامت، رهبری او لارښوونه د ښځې ( مور) مسؤلیت جوړ شی او دغه د نارینه د پاره ډیره درنه، ستره او بی له قهر او غضب د استعمال نه پرته نه اجراکیدونکی وظیفه دده له اوږو لری شی، ترڅو په انسانی ټولنه او په خاصه توګه زمونږ په افغانی ټولنه کی هم انسان د مینې په مفهوم و پوهیږی او د کرکې نه کرکه ولری. په همدی هیله.

پای



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید